EUROPEAN UNION AGENCY FOR ASYLUM

Federal Public Service Home Affairs

Office of the Commissioner General for Refugees and Stateless Persons

FEDERAL AGENCY FOR THE RECEPTION OF ASYLUM SEEKERS

بلجیم

# کله چې د نړیوال خوندیتوب غوښتنه بیاځلی کوئ هغه څه چې تاسو باید پرې پوه شئ (تعقیبي غوښتنه)

Pashto

پښتو

Practical guide on the Subsequent Request for International Protection in Belgium

June 2026

**تاسو اوس په بلجیم - EU + کې یاست، چې د اروپايي اتحادیې غړی هېواد دی.**
**د اروپايي اتحادیې - EU + غړي هېوادونه دا دي:**

د اروپايي اتحادیې EU ۲۷ غړي هېوادونه دا دي:

بلجیم، بلغاریا، قبرس، ډنمارک، جرمني، استونیا، فنلنډ، فرانسه، یونان، هنګري، ایرلنډ، ایټالیا، کروشیا، لاتویا، لیتوانیا، لوکزامبورګ، مالټا، هالېنډ، اتریش، پولنډ، پرتګال، رومانیا، سلواکیا، سلوانیا، هسپانیا، چک جمهوریت او سویډن، او

۴ نور هېوادونه: ایسلنډ، لیختنشتاین، ناروې او سویس.

## منځپانګه


تعقیبي غوښتنه څه ده؟ 3

پروسه یې څه ډول ده؟ 5

- لومړی پړاو: ستاسو غوښتنه باید بیا ثبت او وسپارل شي. 5
- دوهم پړاو: ستاسو د غوښتنې لومړنۍ ارزونه 9
- دریم پړاو: ستاسو د غوښتنې اساسي ارزونه او څېړنه 11
- څلورم پړاو: ستاسو د غوښتنې په اړه پریکړه 12

زه کوم حقونه لرم؟ 13

زه کوم مکلفیتونه لرم؟ 17

که زه خپل مکلفیتونه ترسره نه کړم، څه به پېښ شي؟ 21

تاسو سره به ځانګړې مرسته وشي که اړتیا ورته ولرئ. 23

که تاسو وغواړئ بېرته خپل هېواد ته ستانه شئ، څه به پېښ شي؟ 24

## تعقیبي غوښتنه څه ده؟

**کله چې تاسو مخکې په کوم - + EU هېواد کې د نړیوال خوندیتوب (چې پناه غوښتنه هم ورته ویل کېږي) لپاره یو یا څو غوښتنې کړې وي، نو ستاسو نوې غوښتنې ته «تعقیبي غوښتنه» ویل کېږي.**

حتی که ستاسو پخوانۍ غوښتنه په بل اروپایي ټولنې - + EU هېواد کې هم ثبت شوې وي، ستاسو نوې غوښتنه بیا هم تعقیبي غوښتنه ګڼل کېږي.

یوه تعقیبي غوښتنه د هغې پخوانۍ پرېکړې پر ضد استیناف نه ګڼل کېږي چې تاسو ترلاسه کړې ده. تاسو یوازې هغه وخت تعقیبي غوښتنه کولای شئ کله چې ستاسو د پخوانۍ غوښتنې پروسه بشپړه شوې وي. دا په دې معنی ده چې:

- تاسو باید د خپلې پخوانۍ غوښتنې په اړه پرېکړه ترلاسه کړې وي،
- د استیناف کومه روانه پروسه موجوده نه وي، او
- د استیناف د وړاندې کولو قانوني موده پای ته رسېدلې وي.

دا چې تاسو له پخوانۍ پرېکړې سره موافق نه یاست، یوازې دا د دې لپاره دلیل نه ګڼل کېږي چې بیا د نړیوال خوندیتوب غوښتنه وکړئ.

که تاسو تعقیبي غوښتنه وړاندې کوئ، نو باید نوي **عناصر (لکه اسناد، ثبوتونه یا نور شواهد)** وړاندې کړئ ترڅو دا ثابته کړئ چې تاسو نړیوال خوندیتوب ته اړتیا لرئ.

**نوي عناصر** هغه معلومات، اسناد یا شواهد دي چې ستاسو د نړیوال خوندیتوب غوښتنه پیاوړې کوي او تاسو نه شوای کولای دا د خپلې پخوانۍ غوښتنې یا غوښتنو پر مهال وړاندې کړئ.

نوي عناصر کېدای شي هغه نوي اسناد یا ثبوتونه وي چې تاسو ترلاسه کړي وي، یا هغه پېښې وي چې ستاسو د پخوانۍ غوښتنې د پرېکړې له نېټې وروسته رامنځته شوې وي، د بېلګې په توګه:

- نوې پېښې چې له تاسو سره شوې وي،
- نوې پېښې چې ستاسو په اصلي هېواد کې رامنځته شوې وي،
- ستاسو په شخصي وضعیت کې بدلونونه.

**د استثنا په ډول، نوي عناصر هغه معلومات یا اسناد هم کېدای شي چې ستاسو د پخوانۍ غوښتنې پر مهال موجود وو، که چېرې له لاندې دلیلونو څخه یو پرې تطبیقېږي.**

- تاسو د خپلې پخوانۍ غوښتنې پر مهال هېڅ امکان نه درلود چې د دغو نوو عناصرو په اړه خبر اوسئ.
- تاسو د موجه دلایلو له امله نه شوای کولای د دغو نوو عناصرو په اړه خبرې وکړئ. په دې صورت کې باید دغه دلایل تشریح کړئ.هغه معلومات چې تاسو په خپلې پخوانۍ غوښتنه کې وړاندې کړي وو، هم په پام کې نیول کېږي. خو ستاسو پخوانۍ غوښتنه به بیا له سره ونه ارزول شي.

## پروسه يې څه ډول ده؟

وروسته له دې چې تاسو ادارو ته خبر ورکړئ چې غواړئ يو ځل بيا د نړيوال خوندیتوب غوښتنه وکړئ (چې دې ته «تعقيبي غوښتنه» ويل کېږي)، د پروسې بېلابېل پړاوونه پيلېږي.

### لومړی پړاو 1 : ستاسو غوښتنه بايد بيا ثبت او وسپارل شي

ثبت او سپارل لاندې برخې رانغاړي:

ستاسو د ګوتو نښې اخيستل کېږي.

ستاسو عکس اخيستل کېږي.

له تاسو څخه به وغوښتل شي چې خپل ټول د هويت اسناد، د سفر اسناد او نور اړوند اسناد وړاندې کړئ.

که چېرې تاسو سره د هويت اصلي اسناد يا د هغو کاپيانې موجودې وي، نو لازمه ده چې هغه د بهرنيانو چارو اداري (DVZ)ته وسپارئ.

له تاسو څخه به وغوښتل شي چې د خپل اړیکې معلومات (پته، د تلیفون شمېره او بریښنالیک) وړاندې کړئ.

د داخلېدو پر مهال به امنیتي تلاشي ترسره شي. که چېرې تاسو له ځان سره داسې شیان ولرئ چې خطرناک ګڼل کېږي، نو هغه به درڅخه واخیستل شي.

له تاسو څخه به وغوښتل شي چې خپل شخصي معلومات وړاندې کړئ. همدارنګه به له تاسو څخه د هغو کورنۍ غړو په اړه پوښتنه وشي چې په بلجیم یا بل EU+ - هېواد کې اوسي.

د بهرنیانو چارو اداره (DVZ) به وڅېړي چې تاسو له کوم وخت راهیسې په بلجیم کې یاست، آیا تاسو په بلجیم کې د اوسېدو ځای لرئ او آیا د استوګنې یا مرستې اړتیا لرئ که نه.

سربېره پر دې، تاسو باید په بلجیم کې خپل د استوګنې پته وتاکئ.

همدارنګه به له تاسو څخه وپوښتل شي چې آیا غواړئ د پروسې په دوام کې د یوه ژباړن مرسته هم ولرئ که نه.

له تاسو څخه به وغوښتل شي چې لاندې کارونه ترسره کړئ:

- ټول موجود معلومات او اسناد وړاندې کړئ چې ستاسو د غوښتنې ملاتړ کوي. پدې کې هغه نوي عناصر هم شامل دي چې پر بنسټ يې تاسو تعقيبي غوښتنه کړې ده. نوي عناصر کېدای شي نوي حقايق يا ثبوتونه وي چې شيي تاسو نړيوال خوندیتوب ته اړتيا لرئ؛
- ستاسو د پخوانۍ نړيوال خوندیتوب غوښتنې يا غوښتنو په اړه پوښتنو ته ځواب ورکړئ.

په بلجيم کې، ستاسو د غوښتنې له سپارلو وروسته به د بهرنيانو چارو اداري (DVZ) له خوا ستاسو مرکه واخيستل شي، ترڅو اړين معلومات راټول شي. راټول شوي معلومات به په خوندي ډول په ملي او اروپايي ډيټابېسونو کې وساتل شي.

دا ستاسو دنده او همدارنګه ستاسو په خپله ګټه ده چې رښتيا وواياست او له ادارو سره همکاري وکړئ.



ټول هغه معلومات چې تاسو يې له ادارو سره شريکوئ، محرم پاتې کېږي. دغه معلومات هېڅکله هغو کسانو ته نه ورکول کېږي چې تاسو د هغوی د لاسه د خوندیتوب غوښتنه کړې.

## ستاسو د غوښتنې ثبت او سپارل کله او چېرته ترسره کېږي؟

وروسته له دې چې تاسو له ادارو څخه د نړیوال خوندیتوب غوښتنه وکړئ، ستاسو غوښتنه به په اصل کې هماغه ورځ او په هماغه ځای کې ثبت او وسپارل شي. ستاسو غوښتنه د بهرنیانو چارو اداړې (DVZ) کې ثبت او سپارل کېږي.

د بهرنیانو چارو اداره ( (DVZ) به، تر ممکنه حده، هڅه وکړي چې ستاسو غوښتنه هماغه ورځ ثبت کړي.

ستاسو د غوښتنې د ثبت پر مهال به تاسو ته معلومات درکړل شي چې څنګه کولای شئ خپله غوښتنه وسپارئ.

که چېرې غوښتنه په هماغه ورځ ونه سپارل شي، نو تاسو ته به یو سند درکړل شي. د دې سند په وسیله تاسو ثابتولای شئ چې تاسو د نړیوال خوندیتوب غوښتنه کړې ده او دا غوښتنه ثبت شوې ده.

که تاسو خپله غوښتنه یوې بلې اداړې ته ورانديې کړئ چې ستاسو د غوښتنې د ثبت صلاحیت ونه لري، نو هغه اداره به تاسو د بهرنیانو چارو اداړې (DVZ) ته راجع کړي.

دا ډېره مهمه ده چې تاسو د خپلې غوښتنې د سپارلو ټول مراحل په بشپړه توګه ترسره کړئ. که چېرې تاسو د غوښتنې سپارل بشپړ نه کړئ، نو ستاسو غوښتنه به ښېرته اخیستل شوې وګڼل شي، مګر که د نه بشپړولو دلیل ستاسو له واک او توان څخه بهر وي.

دا په دې معنی ده چې تاسو به د غوښتونکي حیثیت، د مرستې او خدمتونو حق، او په دې هېواد کې د پاتې کېدو حق له لاسه ورکړئ.

وروسته له دې چې تاسو خپله غوښتنه وسپارئ، تاسو ته به یو رسمي سند درکړل شي چې پکې لیکل شوي وي تاسو د نړیوال خوندیتوب غوښتونکی شخص یاست.تاسو باید دا سند تل له ځان سره ولرئ.که چېرې غوښتنه په هماغه ورځ ونه سپارل شي، نو د ثبت وروسته به تاسو ته یو سند درکړل شي چې په وسیله یې تاسو ثابتولای شئ چې غوښتنه مو کړې ده او دا غوښتنه ثبت شوې ده.

## دوهم پړاو 2 : ستاسو د غوښتنې لومړنۍ ارزونه او څېړنه

وروسته له دې چې ستاسو غوښتنه وسپارل شي او د بهرنیانو چارو اداره (DVZ) له خوا ستاسو مرکه واخیستل شي، ستاسو دوسیه به د کډوالو او بې‌وطنه کسانو عمومي کمېسارۍ (CGVS) ته ولېږل شي، که ثابته شي چې بلجیم ستاسو د غوښتنې د ارزونې مسؤل هېواد دی.

راتلونکی پړاو ستاسو د غوښتنې لومړنۍ ارزونه او څېړنه ده.

د دې لومړنۍ ارزونې پر مهال، CGVS ګوري چې آیا هغه عناصر چې تاسو وړاندې کړي دي نوي دي او آیا دغه عناصر ستاسو د نړیوال خوندیتوب د ترلاسه کولو امکان په څرګند ډول زیاتوي که نه.

د لومړنۍ ارزونې او څېړنې پر مهال، کېدای شي تاسو د مرکې لپاره راوبلل شئ. که تاسو مرکې ته راونه بلل شئ، نو لومړنۍ ارزونه به یوازې د هغو معلوماتو او اسنادو پر بنسټ ترسره شي چې په دوسیه کې موجود وي.

د لومړنۍ ارزونې او څېړنې پر بنسټ، ستاسو غوښتنه یا د **ارزونې وړ ګڼل کېږي** او یا د **ارزونې وړ نه ګڼل کېږي.**

که ستاسو غوښتنه **د ارزونې وړ وبلل شي، نو ستاسو غوښتنه به نوره هم وڅېړل شي**. دا په دی معنی ده چې تاسو به د پناه غوښتنې د عادي پروسې هماغه پړاوونه تېر کړئ. د کډوالو او بې‌وطنه کسانو عمومي کمېساري (CGVS) کولای شي تاسو د شخصي مرکې لپاره هم راوبولي.

که ستاسو غوښتنه **د ارزونې وړ ونه ګڼل شي، نو نوره به ونه څېړل شي او پروسه به پای ته ورسېږي**. اداره به تاسو د هغو دلایلو په اړه خبر کړي چې ولې ستاسو غوښتنه د ارزونې وړ ونه ګڼل شوه. تاسو ته به پرېکړه په لیکلي بڼه درولېږل شي.

که تاسو له دې پرېکړې سره موافق نه یاست، نو کولای شئ د هغې پر ضد استیناف وکړئ. تاسو کولای شئ له یوه حقوقي سلاکار (وکیل) څخه وغواړئ چې د استیناف په وړاندې کولو کې مرسته درسره وکړي.

ستاسو غوښتنه هغه وخت د **ارزونې وړ ګڼل** کېږي که تاسو په خپله غوښتنه کې **نوي عناصر** وړاندې کړئ او دغه **نوي عناصر وښيي چې تاسو نړيوال خوندیتوب ته اړتیا لرئ**.

ستاسو غوښتنه هغه وخت **د ارزونې وړ نه ګڼل کېږي** که تاسو داسې نوي عناصر وړاندې نه کړئ چې وښيي تاسو نړيوال خوندیتوب ته اړتیا لرئ.

**که ستاسو غوښتنه د ارزونې وړ وبلل شي، نو لاندې پراوونه به پرې تطبیق شي.**

## درېیم پړاو 3 : ستاسو د غوښتنې اساسي ارزونه او څېړنه

که ستاسو غوښتنه د ارزونې وړ وبلل شي، نو اداره به هغه دلایل وڅېړي چې ولې تاسو د نړیوال خوندیتوب غوښتنه کوئ او ولې نه غواړئ خپل اصلي هېواد ته بېرته ستانه شئ (دې ته اساسي ارزونه او څېړنه ویل کېږي).

که ستاسو غوښتنه د ارزونې وړ وګڼل شي، نو د پناه غوښتنې د عادي پروسې هماغه پراوونه به تعقیب شي. خو ستاسو د تعقیبي غوښتنې ارزونه کېدای شي په چټکه پروسه کې ترسره شي.

تاسو به د شخصي مرکې لپاره راوبلل شئ، مګر که اداره وکولای شي ستاسو په دوسیه کې د موجودو معلوماتو او اسنادو پر بنسټ سمدستي مثبته پرېکړه وکړي، نو بیا مرکې ته اړتیا نه وي.

### طبي معاینه

اداره کولای شي له تاسو وغواړي چې طبي معاینه ترسره کړئ، ترڅو هغه احتمالي ننبې وڅېړل شي چې ښیي تاسو په تېر وخت کې د ځوروني یا جدي زیان قرباني شوي یاست. دا معاینه وړیا ده او له تاسو څخه به د دې لپاره اجازه وغوښتل شي.

تاسو به د معاینې د پایلو په اړه خبر کړل شئ، او دغه پایلې به ستاسو د غوښتنې د ارزونې پر مهال په پام کې ونیول شي.

که اداره د طبي معاینې غوښتنه ونه کړي، تاسو کولای شئ په خپل شخصي لګښت خپله د معاینې غوښتنه وکړئ.

## څلورم پړاو 4 : ستاسو د غوښتنې په اړه پرېکړه

د کډوالو او پېوطنه کسانو عمومي کمېساري (CGVS)به ستاسو د نړیوال خوندیتوب غوښتنې په اړه پرېکړه تاسو ته د راجستر شوي لیک له لارې درولېږي. CGVSبه پرېکړه هغې پټې ته واستوي چې تاسو د خپل استوګنځي په توګه ورکړې ده.

که تاسو په یوه د استوګنې یا استقبال مرکز کې اوسېږئ، نو پرېکړه به د هماغه مرکز پټې ته واستول شي. د هغه مرکز د کړنلارې له مخې چې تاسو پکې اوسېږئ، یا به د مرکز یو کارکوونکی پرېکړه تاسو ته درکړي، یا به تاسو خپله پوست دفتر ته لاړ شئ ترڅو هغه لیک ترلاسه کړئ چې پرېکړه پکې درته خبر شوې ده

که تاسو په شخصي استوګنځي کې اوسېږئ، نو پوستچي به ستاسو دروازه وټکوي او راجستر شوی لیک به تاسو ته وسپاري. که په هغه وخت کې په کور کې نه یاست، نو پوستچي به ستاسو په پوستبکس کې یو خبرتیا لیک پرېږدي چې پکې لیکل شوي وي تاسو باید راجستر شوی لیک په خپله له پوست دفتر څخه ترلاسه کړئ. که تاسو راجستر شوی لیک پر وخت ترلاسه نه کړئ، نو پوست به هغه بېرته CGVS ته واستوي.

په پرېکړه کې به هغه دلایل ذکر شوي وي چې ولې CGVS په دې باور دی چې تاسو نړیوال خوندیتوب ته اړتیا لرئ یا نه لرئ. ستاسو ټولنیز کارکوونکی یا وکیل کولای شي د پرېکړې محتوا تاسو ته تشریح کړي.

### د استیناف د وړاندې کولو امکان

که تاسو له پرېکړې سره موافق نه یاست، نو کولای شئ د هغې پر ضد استیناف وکړئ. د دې په اړه معلومات به ستاسو په پرېکړه کې موجود وي.

له همدې امله، خپله پرېکړه د خپل ټولنیز کارکوونکي او/یا وکیل په مرسته په دقت سره ولولئ. له هغه/هغې سره وګورئ چې ستاسو په قضیه کې د استیناف کومه موده تطبیقېږي.

## تاسو کوم حقونه لرئ؟

### د پاتې کېدو اجازه او د استوګنې مرستو او خدمتونو ترلاسه کولو حق

که دا ستاسو لومړنی تعقیبي غوښتنه وي، نو په اصل کې تاسو کولای شئ په دې هېواد کې پاتې شئ تر هغه چې ستاسو د غوښتنې ارزونه بشپړه شوې نه وي.

**دا امکان شته چې د خپلې غوښتنې د ارزونې پر مهال په دې هېواد کې د پاتې کېدو اجازه ونه لرئ،** که چېرې:

- تاسو مخکې لا یو یا څو تعقیبي غوښتنې وړاندې کړې وي؛
- یاتاسو یوازې د دې لپاره د نړیوال خوندیتوب غوښتنه کړې وي چې له دې هېواده ستاسو د شړلو بهیر وځنډول شي.

دا امکان هم شته چې تاسو د استیناف د پروسې پر مهال په دې هېواد کې د پاتې کېدو اجازه ونه لرئ. په دې صورت کې به اداري تاسو د دې دلایلو په اړه خبر کړي او تاسو ته به وښیي چې آیا او څنګه کولای شئ د استیناف د پروسې پر مهال د پاتې کېدو اجازه وغواړئ.

د خپل استوګنې پر مهال به تاسو د **استوګنې مرستې او خدمتونه** ترلاسه کوئ؛ خو دا مرستې او خدمتونه کېدای شي د اړوندې اداري د انفرادي پرېکړې پر بنسټ **محدود شي**.د هغو استوګنیزو مرستو او خدمتونو په اړه چې تاسو یې ترلاسه کوئ، نور معلومات په جلا بروشور کې موندلای شئ.

## تاسو د ژباړن د خدمتونو حق لرئ

که تاسو په هالنډي یا فرانسوي ژبه خبرې نه شئ کولای، نو یو ژباړن به د DVZ په مرکه او ستاسو په شخصي مرکه کې، که ترسره شي، له ادارو سره د اړیکې په برخه کې مرسته درسره وکړي. د ژباړن خدمت وړیا دی.

**که دا تاسو سره مرسته کوي چې خپلې خبرې په ازاد ډول بیان کړئ، نو تاسو کولای شئ د خپلې شخصي مرکې لپاره د نارینه یا ښځینه ژباړن او د مرکې د کارکوونکي غوښتنه وکړئ.**

ستاسو د ورکړل شوو دلایلو او د امکاناتو د موجودیت له مخې، ستاسو غوښتنې ته به رسیدنه وشي.

## تاسو حق لرئ چې معلومات ترلاسه کړئ او وړيا حقوقي مشوره وغواړئ

د پناه غوښتنې د پروسې پر مهال تاسو کولای شئ د وړيا حقوقي مشورې غوښتنه وکړئ.

خو کېدای شي تاسو د وړيا حقوقي مشورې حق ونه لرئ که چېرې:

- تاسو خپله تعقيبي غوښتنه يوازې د دې لپاره کړې وي چې د بېرته ستنېدو پروسه "ودرول" شي؛
- ياتاسو مخکې لا يو يا څو تعقيبي غوښتنې وړاندې کړې وي.

تاسو کولای شئ د خپلې غوښتنې د ثبت او سپارلو پر مهال د بهرنيانو چارو اداره (DVZ) څخه معلومات او حقوقي مشوره وغواړئ.

همدارنګه، تاسو کولای شئ د حقوقي مرستو له دفترونو (BJB) څخه هم حقوقي مشوره ترلاسه کړئ.

## تاسو کولای شئ له يوه حقوقي سلاکار (وکيل) سره مشوره وکړئ

حقوقي سلاکار هغه شخص دی چې تاسو ته شخصي حقوقي مرسته برابروي يا مو د ادارو سره په اړيکو کې استازيتوب کوي. تاسو حق لرئ چې د پناه غوښتنې د پروسې په هر پړاو کې له يوه حقوقي سلاکار سره مشوره وکړئ.

د خپل اوسني حقوقي سلاکار معلومات ادارو ته ورکړئ، ترڅو هغوی وکولای شي هغه ستاسو د غوښتنې له بهير څخه خبر وساتي.

## تاسو کولای شئ د ملګرو ملتونو د کډوالو له اداري (UNHCR) یا نورو سازمانونو سره اړیکه ونیسئ

تاسو کولای شئ د پناه غوښتنې د پروسې په هر پړاو کې له UNHCR یا د هغې له همکارو سازمانونو سره اړیکه ونیسئ او اړیکه وساتئ.

د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره (UNHCR) د نړیوال خوندیتوب غوښتونکو او کډوالو د حقونو او ګټو ساتنه کوي. همدارنګه، UNHCR او د هغې همکار سازمانونه غوښتونکو ته معلومات او اړینې مرستې هم برابروي.

د UNHCR د اړیکو معلومات او د پناه غوښتنې د پروسې اړوند معلومات د UNHCRپه وېبپاڼه کې موندلای شئ:

https://help.unhcr.org/

تاسو کولای شئ له هغو نورو سازمانونو سره هم اړیکه ونیسئ چې غوښتونکو ته حقوقي مشورې یا نورې مرستندویې لارښوونې او ملاتړ وړاندې کوي.

## ستاسو مکلفیتونه کوم دي؟

### د دې هېواد قوانینو ته درناوی وکړئ

**په هغه هېواد کې پاتې شئ چې تاسو پکې د نړیوال خوندیتوب غوښتنه کړې ده**

هڅه مه کوئ چې بل -EU+ هېواد ته ولاړ شئ. تاسو یوازې هغه وخت بل -EU+هېواد ته سفر کولای شئ چې د اړوندو ادارو اجازه مو ترلاسه کړې وي.

**ډاډ ترلاسه کړئ چې اداري وکولای شي له تاسو سره اړیکه ونیسي او دا چې تاسو خپلې ټاکل شوې لیدنې او ژمنې پر وخت ترسره کوئ.**

کله چې اداري له تاسو وغواړي، تاسو باید په شخصي ډول ټولو ټاکل شوو لیدنو ته حاضر شئ. تاسو باید پر وخت حاضر اوسئ.

که د کوم جدي دلیل له امله ونه شئ کولای په ټاکلې لیدنه کې ګډون وکړئ، نو باید سمدستي اداري خبرې کړئ او خپل دلیل ورته تشریح کړئ

## له ادارو سره بشپړه همکاري وکړئ

کله چې له تاسو څخه وغوښتل شي، نو تاسو باید لاندې کارونه ترسره کړئ:

- خپل شخصي معلومات، اسناد او نور اړوند معلومات وړاندې کړئ د خپلې د غوښتنې ملاتړ لپاره.

- خپل د هویت اسناد وړاندې کړئ. که دا اسناد له تاسو سره نه وي، نو دلیل یې تشریح کړئ.

- اجازه ورکړی چې د خپلو کوتو نښې ورکړی او عکس مو واخیستل شی.

- خپله غوښتنه په ټاکل شوې نېټه او ټاکلې ځای کې وسپارئ.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د DVZ په مرکه او شخصي مرکې کې حاضر یاست او د مرکې پر مهال پوښتنو ته ځوابونه ورکوئ.

- له ادارو سره همکاري وکړئ که چېرې دولتي اداري غواړي تاسو تلاشي کړي یا ستاسو سامانونه وپلټي. دا کار یوازې هغه وخت ترسره کېږي چې اړتیا او قانوني توجیه ولري. اداره به تاسو ته د تلاشي او پلټنې دلیلونه تشریح کړي. تلاشي او پلټنه به د هماغه جنس شخص له خوا ترسره کېږي او په داسې ډول به وي چې ستاسو عزت او کرامت ته زیان ونه رسېږي.

هغه څه چې تاسو يې وايياست، ستاسو د غوښتنې د اعتبار لپاره ډېر مهم دي. له همدې امله، تاسو بايد صادق اوسئ او د خپل هويت، کورنۍ، اصلي هېواد او د نړيوال خوندیتوب د غوښتنې د دلايلو په اړه بشپړ او سم معلومات ورکړئ.

کېدای شي تاسو هر څه په یاد ونه لرئ، نو ښايي د ټولو پوښتنو ځوابونه ونه شئ ویلای. په دې حالت کې باید ځوابونه له ځانه جوړ نه کړئ، بلکې ووایاست چې تاسو يې په یاد نه لرئ.

## خپل د اړيکو سم معلومات ورکړئ او د اړيکې لپاره موجود اوسئ

اداري باید وکولای شي ستاسو د نړيوال خوندیتوب د غوښتنې په اړه له تاسو سره اړيکه ونيسي.

که ستاسو پته، بربښنالیک یا د تلیفون شمېره بدله شي، نو باید سمدستي اداري پرې خبرې کړئ.

**په یاد ولرئ چې تر هغه وخته چې ستاسو غوښتنه تر ارزونې لاندې وي، تاسو اجازه نه لرئ بلجيم پرېږدئ.**

که تاسو په یوه د استوګنې مرکز کې اوسېږئ، نو د ادارو له اجازې پرته بل ځای ته د کډه کېدو اجازه نه لرئ.

## ټول معلومات او اسناد چې ستاسو د غوښتنې ملاتړ کوي، د بهرنیانو چارو اداري (DVZ) ته وسپارئ

کېدای شي تاسو د شخصي مرکې لپاره راونه بلل شئ او پروسه ډېره لنډه وي، چې یوازې څو ورځې یا حتی څو ساعته وخت ونیسي. له همدې امله، دا ډېره مهمه ده چې سمدستي اداري د ټولو هغو دلایلو څخه خبر کړئ چې ولې مو بیا غوښتنه کړې ده او کوم نوي عناصر مو د هغې د ملاتړ لپاره وړاندې کړي دي.

تاسو باید، هر کله چې امکان ولري، اصلي اسناد وړاندې کړئ. تاسو اجازه نه لرئ جعلي اسناد وړاندې کړئ.

د خپلې غوښتنې د سپارلو پر مهال باید ټول معلومات او اسناد ژر تر ژره وړاندې کړئ. که اسناد سمدستي ستاسو په لاس کې نه وي، نو کله چې یې ترلاسه کړئ، باید هغه د کډوالو او بېوطنه کسانو عمومي کمېساری (CGVS) ته وسپارئ، که چېرې بلجیم ستاسو د نړیوال خوندیتوب د غوښتنې د ارزونې مسؤل هېواد وي.

## که تاسو خپل مکلفیتونه ترسره نه کړئ نو څه به پېښېږي؟

### ستاسو د پناه غوښتنې پروسه درول کېږي




ستاسو غوښتنه به **پېرته اخیستل** شوې یا **رد شوې** وګڼل شي. دا په دی معنی ده چې تاسو کولای شئ د نړیوال خوندیتوب د غوښتونکي حیثیت او ټول هغه حقونه چې له دې سره تړاو لري، له لاسه ورکړئ.

که تاسو له لاندې کارونو ډډه وکړئ دا به پېښېږي:

- کله چې له تاسو څخه غوښتنه وشي،معلومات ور نه کړئ؛
- د خپلو ګوتو د نښو اخیستلو یا د خپل عکس اخیستلو اجازه ور نه کړئ؛
- خپله پته ور نه کړئ؛
- د شخصي مرکې پر مهال، که ترسره شي، پوښتنو ته ځواب ور نه کړئ.

همدارنګه، دا به هغه وخت هم پېښ شي که تاسو:

- له موجه دلیل پرته خپله غوښتنه په ټاکلې موده کې وړاندې نه کړئ؛
- له موجه دلیل پرته شخصي مرکې ته حاضر نه شئ؛
- کله چې اداري له تاسو وغواړي، ځان ورته حاضر نه کړئ؛
- په هغه ځای کې پاتې نه شئ چې هلته پاتې کېدل درباندې لازمي وي؛
- د ادارو لپاره د اړیکې وړ نه اوسئ؛
- هېواد پرېږدئ.

تاسو همدارنګه کولای شئ د پناه غوښتنې د پروسې په هر پړاو کې پرېکړه وکړئ چې خپله غوښتنه بېرته واخلئ، د بېلګې په توګه ځکه چې تاسو خپل هېواد ته د بېرته ستنېدو پرېکړه کړې وي. په دې صورت کې به تاسو د نړیوال خوندیتوب د غوښتونکي حیثیت له لاسه ورکړئ.

## ځینې د استوګنې مرستې او د استوګنې ځینې خدمتونه محدود یا بندېدای شي

په ځینو حالاتو کې، فېداسیل (Fedasil) کولای شي پرېکړه وکړي چې د استوګنې ځینې مرستې یا ځینې د استوګنې خدمتونه محدود یا بند کړي. فېداسیل به ستاسو د وضعیت تر ارزونې وروسته تاسو په لیکلي بڼه د داسې پرېکړې څخه خبر کړي.د دې په اړه نور معلومات په جلا بروشور کې موندلای شئ.

## ستاسو د غوښتنې د ارزونې لپاره منفي پایلې رامنځته کېدای شي

که تاسو د خپل هویت یا خپلې غوښتنې په اړه ګمراه کوونکي یا ناسم معلومات ورکړئ، یا اسناد له منځه یوسئ او یا پې جعلي کړئ، نو دا کار ستاسو د غوښتنې لپاره منفي پایلې لرلای شي، د بېلګې په توګه:

- ستاسو غوښتنه رد کېدای شي او کېدای شي تاسو د نړیوال خوندیتوب د تر لاسه کولو شرایط پوره نه کړئ.

- ستاسو غوښتنه کېدای شي د سرحدي پناه غوښتنې د پروسې په چوکاټ کې وڅېړل شي (که داسې وي، نو تاسو ته به د دې پروسې په اړه خانګړي معلومات درکړل شي).

نړیوال خوندیتوب هم ببرته اخیستل کېدای شي که اداري وروسته معلومه کړي چې تاسو د پناه غوښتنې د پروسې پر مهال رښتیا نه وو ویلي.

## که تاسو ځانګړې مرستې ته اړتیا ولرئ، نو لازم ملاتړ او مرسته به درسره وشي.

که تاسو ځانګړې مرستې ته اړتیا لرئ، نو باید ژر تر ژره اداري له دې موضوع څخه خبرې کړئ. دغه اړتیاوې کېدای شي د ببلابېلو حالاتو له امله وي، لکه امیندواری، ناروغی، یا د روانې، فزیکي او جنسي تاوتریخوالي تجربې.اداري به ستاسو وضعیت وارزوي او کېدای شي اضافي مرسته او ملاتړ برابر کړي ترڅو ستاسو ګډون د پناه غوښتنې په پروسه کې اسانه شي.د ببلګې په توګه، هغوی کولای شي ستاسو قضیې ته ځانګړې روزل شوي کارکوونکي وټاکي یا د پناه غوښتنې د پروسې موده ستاسو د وضعیت له مخې تنظیم کړي.

## که تاسو غواړئ خپل هېواد ته بېرته ستانه شئ، څه باید وکړئ؟

تاسو کولای شئ د پناه غوښتنې د پروسې په هر پړاو کې دا پرېکړه وکړئ چې په خپله خوښه بېرته لاندې ځایونو ته ستانه شئ:

- خپل اصلي هېواد ته؛
- یاهغه د ټېرېدو هېواد یا بل درېیم هېواد ته، که تاسو هلته د تک قانوني حق لرئ.

**که تاسو پرېکړه وکړئ چې په خپله خوښه بېرته ستانه شئ، نو ستاسو د پناه غوښتنې پروسه به ودرول شي یا رد به شي، او تاسو به نور په بلجیم کې د پاتې کېدو حق ونه لرئ.که تاسو غواړئ په خپله خوښه بېرته ستانه شئ، نو له فېډاسیل (Fedasil) سره اړیکه ونیسئ.**

https://www.vrijwilligeterugkeer.be/en-gb

تاسو کولای شئ د خوندي او قانوني بېرته ستنېدو لپاره لارښوونه او مرسته ترلاسه کړئ.

د داوطلبانه بېرته ستنېدو په اړه معلومات د بهرنیانو چارو اداري (DVZ) د ICAM مشاورینو څخه هم ترلاسه کولای شئ.

URL: www.dofi.ibz.be/en/ICAM

## د معلوماتو د ترلاسه کولو د تأیید پاڼه

یو کارکوونکی به له تاسو وغواړي چې تایید کړئ تاسو دا معلومات ترلاسه کړي دي.

که تاسو په کوم څه نه پوهیږئ یا لا هم کومه پوښتنه یا شک لرئ، نو هر وخت کولای شئ پوښتنې وکړئ.

## د نړیوال خوندیتوب اداړې

**د کډوالو او بې‌تابعیته کسانو عمومي کمېساری ( CGVS )**

Ernest Blerotstraat 39

1070 BRUSSEL

11 51 205 02 تیلفون

وېبپاڼه : www.cgrs.be/en/contact-info

- د نړیوال خوندیتوب د غوښتنو ارزونه
- پېژندل شوو کډوالو او بې‌تابعیته کسانو ته د تصدیق‌لیکونو او د مدني حالت د اسنادو ورکول

**د بهرنیانو چارو اداره ( DVZ )**

Pachecolaan 44

1000 BRUSSEL

00 80 488 02 تیلفون

بریښنالیک: infodesk@ibz.fgov.be

وېبپاڼه : https://dofi.ibz.be/nl/contact

- په بلجیم کې د بهرنیانو لپاره خاورې ته داخلېدل، استوګنه، مېشت کېدل او ایستل
- نړیوال خوندیتوب: د نړیوال خوندیتوب د غوښتنې ثبتول او د هغه غړي هېواد ټاکل چې د غوښتنې د ارزونې مسؤلیت لري.

## د نړیوال خوندیتوب اداره

**د بهرنیانو د شخړو شورا ( RvV )**

Laurentide Gaucheretstraat 92-94

1030 BRUSSEL

T 02 791 60 00

F 02 791 62 26

**بریښنا لیک** info.rvv-cce@ibz.fgov.be

**ویب پاڼه** www.rvv-cce.be

- د بهرنیانو چارو اداره او د کډوالو او بې تابعیته کسانو د عمومي کمیسار د پریکړو پر ضد استینافونه

**Fedasil**

Kartuizersstraat 21

1000 BRUSSEL

T 02 213 44 11

F 02 213 44 22

**بریښنا لیک** info@fedasil.be

**ویب پاڼه** www.fedasil.be

- د نړیوالې ساتنې غوښتونکو ته استوګنځای او لارښوونه
- د رضاکارانه بېرته ستنېدو همغږي او ملاتړ

**Aanmeldcentrum Fedasil**

Passendalestraat 2

1000 BRUSSEL

T 02 793 82 40

Commissioner General for Refugees and Stateless Persons

دا بروشور يوازې د معلوماتو لپاره دی او په خپله کوم حقونه یا مکلفیتونه نه رامنځته کوي.
اصلي متن د اروپايي اتحاديي د پناه غوښتنې اداري (EUAA) له خوا چمتو شوی، او EUAA يوازې د اروپايي اتحاديي غړو هېوادونو ته اجازه ورکوي چې دا بروشور بيا خپور او تعديل کړي.
EUAA د هغو معلوماتو د دقت، محتوا، بشپړتيا، قانونيت يا اعتبار په اړه چې د اروپايي اتحاديي غړو هېوادونو يا نورو مسؤلو دريمو خواوو له خوا په دې بروشور کې ځای پر ځای شوي، هېڅ ډول مسؤليت نه مني.
EUAA يا هغه کسان چې د EUAA په استازيتوب عمل کوي، د دې بروشور د معلوماتو د هر ډول استعمال په وړاندې مسؤل نه دي.
© د اروپايي اتحاديي د پناه غوښتنې اداره (EUAA، 2026)

ISBN 000-00-00-00000-0
doi: 00.0000/0000000
AA-00-00-000-PUS-C

Publications Office of the European Union